# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com
afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

ژباړه: سرمد
سوم فبروری ۲۰۱۲

## د ویتنام حماسه
## د امریکې رسوایي

م. بنیامین
ژباړه: سرمد
دویمه برخه



یو وار بیا
د ویتنام سوله ییز آسمان
د باروتو له لوګي ښخه
تور شو.
یو وار بیا،
کروندګر له خپلو کروندو راستانه
او وسله یې پر اوږو کړه.
کارګران له کارخانو راستانه شول
او وسله یې پر اوږو کړه.




ښوونکي او زده کوونکي له ښوونځيو راستانه شول
او وسلي يي پر اوږو کړې.
نور نو مرغانو سندرې ونه ويلي
او چا دومره وخت نه درلود
چي له خپلو خپلوانو سره
په ګرمی سلام او روغبړ وکړي.



د امريکي امپرياليزم،
له ستر جنګي ماشين سره
ډګر ته راغلی و
زرګونه پلي سرتيري او افسران
د هوايي ځواک ستره برخه
بيلابيلي بيړۍ

سلګونه الوتکي او جنګي هليکوپټرې
سلګونه بم غورځونکي
ميليونونه ټنه بمونه
سلګونه زره ګيلنه کيمياوي مواد.
او په دې ټولو وژونکو وسايلو سره يي

ادعا کوله،
چې غواړي په ویتنام کې
له هغې سولې او آزادۍ څخه چې له خطر سره مخامخ شوې،
دفاع وکړي.



شپه او ورځ
په پرله پسې ډول:
ښارونه
کلي
سړکونه
کارخاني
ښوونځي
روغتونونه
کرنیزې ځمکې
او هر هغه ځای چې په کې د حیات نښه وه
د مرمیو د باران
او د بمباریو لاندې یې نیول.
او ادعا یې کوله
غواړي له هغې سولې او آزادۍ څخه
چې په ویتنام کې له خطر سره مخامخ شوې،
دفاع وکړي.



د ویتنام جګړې کلونو دوام وکړ
په دغو کلونو کې
میلیونونه ویتنامیان او امریکاییان
په خاورو او وینو کې لت پت شول.
میلیونونه ویتنامیان او امریکاییان
علیل او ناقص العضو شول.
میلیونونه ویتنامي ماشومان
د بمباریو له کبله
ټوټې ټوټې شول.
بې شمیره ودانۍ ویجاړې شوې
زیاتو کرنیزو ځمکو
اور واخیست او لمبه شوې.



خو د ویتنام اتل ولس
په خپلې بې ساري میړاني
د دومره کړاونو او مصیبتونو په وړاندې
مقاومت وکړ.



همدا وو
چې بالاخره
د آزادۍ لمر راوخوت
او د ویتنام زیارکښان
د بریالیتوب دروازو ته ورسیدل.

مات شوی دښمن

د ننګ او کرکې له پېټي سره
په خپلو زړو الوتکو



او له کاره لویدلو ټانکونو او بېړیو
له زرګونو سرتیرو او افسرانو سره
سرټیټی او بیچاره
خپل ټاټوبي ته ستون شو.



یو وار بیا
د سولې سپینو کوترو
د ویتنام په آسمان کې الوتل پیل کړل.
یو وار بیا
اتل او بریالي ولس
متحد او یو موټي
د خپل هیواد په بیارغوني پیل وکړ.
یو وار بیا
ماشومان ښوونځي ته ولاړل
کرونده ګر بیدیا ته
کارګران کارخانو ته
او ژوند له سره پیل شو.

نور په ویتنام کې
مرغان هیڅکله له سندرو ویلو نه سترې کیږي
هیڅکله ښوونځي نه تړل کیږي.
هیڅکله د کارخانو څرخ نه ودریږي
هیڅکله کرونده ګر پر ځمکې خپل کار نه دروي

او نور هلته د جګړې بوم (کوَنګ) خپل غږ نه پورته کوي.
ځکه هغوی
وروسته له دې چې دښمن ته ماته ورکړه
د دښمن عاملان یې
په ټیټ سر له هیواده وشړل
یو وار بیا یې د جدایۍ دیوال ړنګ کړ.

